شاعر: گرامی یاد "داد نورانی"
مرسل: پیشگام

۱۰ جولای ۲۰۲۴



**گرامی یاد دا نورانی**

# لاس

شاید دا فصل،

چې وینه

د هغه د پیغام ځانګړنه وه

د یوه سهار پر مسکېدلی شونډې

پای ته ورسېږي

*   *   *

د تقدیر لاس

د دې ښار پر هینداري مات شو

وینه راوښځېده

هرې زاویې کې سل هاو غاتول وغوړېدل

*   *   *

د شپې لاس ماتیږی

که چېرې ما او تا

سهار

د لمر په باور کې

لاس ورکړو

*            *            *

د یو شپې شا ته

د اوښکو له هغه ګنګوري

چې د شفق له داغه یې رنګ واخیست

لېمې پر زړه سختې دانې وشېندلې.